ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

# د علي خېل درياب په کلام کښې د پښتونولۍ ځرک: يوه تحقيقي جائزه

# Exploration of Pashtunwali in Ali khel Daryab's poetry : An Exploratory Review

Laila Gul[1]

Dr. Badshah.i.Room[2]

**ABSTRACT:**

Ali khel Daryab stands as an eminent figure in Pashto literature, dedicating his life to its enrichment and propagation. Across poetry, prose, criticism, research, translation, compilation, fiction, and folklore, his contributions resonate profoundly, shaping the landscape of Pashto literary tradition. As basically he is a poet, this article delves into his poetic oeuvre, particularly exploring the embodiment and elucidation of Pashtunwali values within his verses. Through meticulous analysis, Ali khel Daryab's profound insights into Pashtunwali emerge, illuminating its nuances and timeless relevance within the fabric of Pashto literature.

Key words: Ali khel Daryab, eminent figure, Pashto literature, Values of Pashtunwli

د پښتو ژبې او ادب په مېدان کښې بلها داسې ليکوالان او اديبان تېر شوي او لګيا دي چې په خپل نه ستړي کېدونکو زيارونو ئې دا په هر لحاظ د نړۍ د نورو ترقي يافته ژبو ادبياتو سره په يو صف کښې اودرولې او سياله کړي ده۔ په دغه ليکوالانو کښې يوه نامه د ډاکټر علي خېل درياب ده چې "خپل نوم ئې بادشاه روم دے ۔ ادبي ، قامي او قلمي نامه ئې علي خېل درياب ده . د کال ۱۹۷۰ ، د مارچ په ۲۱ يشتمه ورځ د عبد الرحيم خان کره د ملاکنډ ايجنسۍ په امان دره ،، کلي کښې پيدا شوے دے ۔ ميټرک ئې د بټ خېلې ګورنمنټ هائي سکول نه په ۱۹۸۶ء ، ايف ايس سي او بي ايس سي ئې پرله پسې په ۱۹۸۸ او ۱۹۹۰ ء کښې د تاڼې د ګورنمنټ کالج نه وکړه . د ايم اے (پښتو) ډګري ئې په ۱۹۹۳ ء کښې د پېښور پوهنتون نه تر لاسه کړه . دغه امتحان کښې په اول نمبر کاميا بيدلو په زري تمغه و نمانځلے شو . د علامه اقبال اوپن يونيورسټۍ اسلام آباد نه په کال ۱۹۹۴ء د بي ايډ، ۱۹۹۶ء کښې د ايجوکيشن ډيپارټمنټ ( اين ډبليو ايف پي ) پېښور د سي ټي، ۲۰۰۲ء کښې د خوشحال تلميحات او اشارات، په موضوع د پېښور پوهنتون نه د ايم فل ، ۲۰۰۴ء کښې د الحمديه کالج آف هيلتھ ايجو کېشن ،، نه طب کښې ډپلومه ، ۲۰۰۶ ء کښې د پېښور پوهنتون نه ايم اے ) اردو ) او هم د ذکر شوي پوهنتون نه په کال ۲۰۰۷ ء . د خوشحال خان په کلام کښې مذکوره شخصيات، په موضوع د پي ايچ ډي او بيا په ۲۰۱۰ء کښې د ملاکنډ پوهنتون نه انګرېزي ادبياتو کښې او علامه اقبال اوپن يونيورسټي نه

---

[1] *Ph.D Scholar, Deapartment of Pashto, University of Malakand.*

[2] *Associate Professor, Deapartment of Pashto, University of Malakand.*

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

ئي د ماسټر او ايم اے ايجوکېشن سندونه تر لاسه کړل. په کال ۱۹۹۸ ء د تعليم محکمه کښې د لکچرر شپ په عهده ئي د خپل ملازمت ابتداء ئي د ګورنمنټ ډګري کالج چکېسر شانګله نه وکړه ـ"[1]او دا وخت په ملاکنډ پوهنتون پښتو څانګه کښې د چېرمېن په څوکۍ ناست دے. علي خېل درياب د نثر او نظم دواړو د مېدان يو ډېر پياوړے او ستر ليکوال دے چې په يو شمېر تصنيفاتو او تاليفاتو په کالو ئي د پښتو ادب د ناوې سر څڼه او سينګار کړے دے. ښاغلے د نوي دور يو کثير التصانيف شخصيت دے چې د معيار او مقدار دواړو له رويه ئي د پښتو ادب پنګه درنه کړي ده او دغه سلسله ئي اوس هم دوام لري. په دغه حواله د هغه په نثري کتابونو کښې افساني،افسانچې ، ډرامې، ترجمې، تذکرې، اولسي قيصې او تحقيقي اثار شامل دي چې دلته ئي لنډ ذکر وړاندې کوم.

ګل پاڼه (افسانچې)، پښتانه او توهمات ( کړنې او انګيرنې) ، غنې او غندلې (افسانچې)، د قندو قتلمې(اولسي قيصې)، باچا سلامت د انګرېزۍ ژبې شهره افاق کتاب The Prince پښتو ژباړه، سبا(د رحيم شاه رحيم د ناول ترتيب او سمونه)، د ګودر ماښام(د رحيم شاه رحيم د ناولټ ترتيب او سمونه)، خوشحال او انبياء کرام(تحقيقي اثر)، ادبي مشالونه)د پښتو MCQs شريک کتاب، د قندو قتلمې اوقطره قطره د ګبين(اولسي قيصې)، د پښتنو کنهه زنهه ( ترجمه) خوشحال او تلميحات(ايم-فل مقاله)، د خوشحال په کلام کښې مذکور شخصيات(پي ايچ ډي مقاله)، او د پينځم او اتم جمات دپاره درسي کتابونه ، ددغه خپاره شوو اثارو نه علاوه ئي د پروفېسر محمد اسلام ارماني د معاصرينو په نظر کښې ( تاليف )، سبا سپل په دامان دے، د کشمالو منجيله ( فولکلور ) شګې او زګونه ( د خليل جبران ترجمه )، سپلمۍ کښې ګبينونه ( محاورې ) ، روښانه لوګې ( د انګرېزۍ ناول ترجمه) ، شفق رنګه لارې ، غوړګې او تېغونه ، د فرهنګيالي خوشحال د دستار نامي فرهنګ ، سوات نامه ( تحقيقي او تنقيدي جائزه ) او د سرو کچکول ئي ناچاپه اثار دي .

دا رنګ د پښتو شعر و شاعرۍ په مېدان کښې ئي هم يو شمېر شعري ټولګې د چاپ د مرحلو نه تېرې شوي او د پښتو ادب ينانو ته ترلاسه شوي دي چې نومونه ئي څه دا ډول دي.

غزل بڼ، بهير د جمال، عطرژن، د رڼاګانو سنګسار، رنګونه په زنځير، د رنګونو لپې، سندريز الهام، لاهوتي زمزمې (نعتيه مجموعه)، سرمدي کېفونه (د کال ۲۰۱۸ء صدارتي اېوارډيافته نعتيه مجموعه)، د مديني يادونه(نعتيه مجموعه). دغه شان درنګونو درياب،د بنګو وله ، د بنګړو بار او سپوږمۍ په آئينه کښې ئي د شاعرۍ ناچاپه کتابونه دي .

په شعر و شاعرۍ کښې ښاغلي هر خيال، مضمون او موضوع رانغښتې ده او په ډېره ښکلې پېرايه کښې ئي د بېلا بېل اصنافو په بڼه کاغذ ته سپارلې دي.

په دغه حواله همېش خليل ليکي چې:

**"په مختلفو صنفونو د علي خېل درياب شاعري د رنګا رنګۍ يوه ګلدسته ده چې اګر که رنګونه ئي جدا دي ولې د خوشبو په خوروللو کښې د ټولو کردار يو شان دے" ـ [2]**

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

د علي خېل درياب شاعري د ګڼ شمېر موضوعاتو يوه رنګينه ګلدسته ده، او په دغه مېدان کښې هغه د ژوند او چاپېرچل سره تړلي په هره موضوع د خپل خيال نېلي زغلولي دي، په دغه موضوعاتو کښې يوه د پښتو او پښتونولۍ موضوع هم ده چې د ښاغلي د شاعرۍ په ټولو موضوعاتو کښې يوه ښکاره، ستره او د هغه د پښتني مزاج عکاسه موضوع ده.

پښتونولي چې د دوؤ لفظونو "پښتون" او "ولي" مرکب لفظ دے. پښتون د قام نوم دے او د دې په باره کښې وئيلي شي چې پخوا دا خلق د باختر په علاقه "بخد" کښې اوسېدل نو دوي ته به ئې "بخدي" وئيل.وروسته د وخت تېرېدو سره په دغه لفظونو کښې "ب" په "پ" او "خ" په "ښ" بدل شو او دا رنګ د "بخد" نه "پښت" او "بخدي" په "پښتي" او بيا په پښتون بدل شو کومه چې تر ننه د دې قام نامه ده. دا رنګ "ولي" د "واله" لنډ ساخت( short form) دے چې د يو څيز يا ځاے ملکيت ظاهروي لکه کلي واله، بنګړي واله. دغه شان د پښتونولۍ پوره معني او مطلب شو پښتو واله.

په اصطلاح کښې پښتونولي د پښتنو يو قديم او د اسلام نه ډېر لرغونے غېرتحريري سينه په سينه او نسل په نسل منتقل شوے يو تهذيبي، جمهوري، قانوني، اخلاقي، سماجي، سياسي، انتظامي او ثقافتي اصول لرونکے معاشرتي نظام دے چې په عامه توګه ورته د پښتنو د ژوند کولو طرز هم وئيلي شي.په دې نه يوازې دا چې پښتون پېژندلے شي بلکې د دې په معنو او مطلب ځان پوهه کول او په عمل کښې راويستل د هر پښتون ذمه داري هم ده. ولې چې د پښتنو دا کلکه عقيده ده چې کوم معاشرتي نظام دوي لري دا دنيا د هر يو طرز حيات نه غوره او په فرق دے په دې وجه پښتون د پښتونولۍ نه علاوه بل دنياوي يا بېروني يو قسم نظام نه قبلوي بلکې د پښتونولۍ د حفاظت د پاره خپل سر هم ورکوي.

لکه څه رنګ چې د دنيا د هر معاشرتي نظام څه اصول وي دغه رنګ پښتونولي هم څه ضابطې او اصول لري چې هغه ضابطې يا اصول په هاغه نظام کښې بنيادي او مرکزي حېثيت لري دغه رنګ په پښتونولۍ کښې خپلې ضابطې او اصول دي. چې يو نسل ئې د بل نه په غېر شعوري توګه زده کوي، په عمل کښې راولي او پابندي ئې کوي.

د دې سره سره پښتانه ليکوالان او شاعران ئې د ليک دپاره مهمه موضوع ګرځوي او د پښتونولۍ د ټولو عناصرو او اقدارو د پابندۍ درس ورکوي او د دې اهميت اعتراف په واز کومي کوي او په زړه راښکونکي انداز کښې ئې بيانوي.

په دغه پښتون پاله شاعرانو کښې يوه روښانه او ځلنده نامه د ډاکټر علي خېل درياب هم ده د چا هر غزل او د هر نظم نه چې د پښتونولۍ خوشبوګاني خېژي او د پښتو شاعرۍ او د عملي ژوند په مېدان کښې د پښتونولۍ بېرغ په لاس د خپل قام حقيقي نمائندګي کوي. دلته زه هڅه کوم چې په لنډه خو جامع توګه د هغه د شاعرۍ د رنګيني ګلدستي نه د پښتونولۍ ګلونه راټول کړم او په رنګينو او خوشبوګانو ئې تحقيقي بحث وکړم.

**مېلمستيا:**

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

د مېلمستيا مطلب دے ځوک مېلمه کول او د هغه خاطر تواضع کول۔ علاوه د دې نه چې هغه ځوک دے د کوم نسل سره تعلق لري، کوم مذهب سره تعلق ساتي څه معاشي حېثيت لري بغېر څه د طمعې او لالچ نه په اخلاص خالص د الله د رضا د پاره د هغه خدمت کولو ته مېلمستيا وئيلې شي چې د پښتون ولې له مخه په هر پښتون فرض ده۔

علي خېل درياب هم د پښتونولۍ د دې عنصر پوره پوره منونکے او پالونکے پښتون دے او د خپل هر مېلمه په روڼ تندي استقبال او هرکلے کوي۔ د ژوند دغه عمل ئې په شاعرۍ کښې ځاے په ځاے بيان کړے دے لکه چې وائي:

"کوت مې نه راځي مېلمه ته په تندي کښې
بت مې شته دے لا دريابه په شمله کښې"[3]

هغه خپل مېلمه د خداي يو لوے رحمت او د ځان دپاره غنيمت ګڼي ځکه ورته د خپلو سترګو بانه په لارو کري او هرکلے ئې کوي۔ لکه چې وائي:

"چې درياب ورته بانه په لارو کري
څه ځانګړے څه ناوياته هرکلے دے"[4]

"څومره ناوياته هرکلے دې کوؤ
چې هر قدم ته دې بانه خوريږي"[5]

## ننواتې :

ننواتې د پښتونولۍ يو مهم توکے دے . کله چې ديو پښتون د لاسه د بل سره څه زياتې وشي ، او هغه د خپل زياتي احساس وشي نو هغه د معافۍ په غرض د هغه کور ته ورځي . په پښتنو خپل غولے ډېر دروند وي ، متاثره کس ته که هرڅومره زيان رسېدلې وي ، خو دغه ننواتې مني او راغلي مجرم ته معافي کوي ـ علي خېل درياب د پښتونولۍ د دې عنصر هم داسې کلک پلوي دے چې که د يو کشر ننواتې کول هم هغه ته را په غاړه شي نو هم پکښې څه عار يا شرم نه ګڼي ځکه چې دا پښتونولۍ يو سپېڅلے عمل دے او په دې سره د انسان په عظمت او عزت کښې کمې نه راځي بلکې د هغه منزلت او مقام پرې نور هم سېوا کيږي۔ لکه چې وائي:

"څه که کشر ؤ خو ما کړې غلطي وه
ننواتې زه په خپله پسې لاړم"[6]

"اعتراف چې د غلطۍ کوي دريابه
دا عظمت د سړيتوب اود مردۍ دے"[7]

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

**بدل :**

بدل چې د پښتونولي یوښکاره عنصر دے او پښتون قام په بدل اخیستو یا بدل ورکرځولو کښې په هېڅ څه سرفه نه کوي۔ بدل په دوه ډوله دے۔ یو د ښو بدل ورکرځول او بل د بدو بدل اخیستل چې انتقام هم بللي شي۔ انصاف غوښتل یا د ظالم نه بدل اخیستل یا قصاص قائمول په وړومبي ذکر شوي قسم کښې راځي چې د وخت یو اهم ضرورت هم وي او هم په دې سره معاشره کښې ظلم ختمېږي او توازن په وجود کښې راځي ۔ د دې متبادل مال دولت هم کېدې شي۔ یعني که دوېم فریق اوغواړي نو د پیسو یا جائیداد په شکل کښې هم خون بها یا د بل څه بدل اخیستې شي۔

د ښو بدل یا د احسان بدل ورکرځول هم د پښتنو د فطرت خاصه ده ځکه چې پښتانه د چا ښه هم نه هېروي او د هغې په بدل کښې ورسره ښه کوي او په ښو ئې راځي۔

دعلي خېل دریاب په کلام کښې د پښتونولی د دې توکي د دواړو قسمونو ښه په خلاص متې پکارونه په نظر راځي ځکه چې هغه پخپله د دې خاورې یو زیګ پښتون دے۔ په دغه حواله هغه د ظلم، زیاتي او بدو بدل اخیستل ښه پېژني او د انتقام په چل پوهیږي خو د هغه خپل فطرت د بدو په بدل کښې هم د ښه سلوک کولو، بخښنه کول او د رحم مظاهرې ته مائیل دے او هم دا هغه تر هر څه بهتر بدل او انتقام ګڼي ۔ لکه چې وائي:

"دي کښـــې د ځـــان نفـــي کـــول دي کنــــه
د انتقــــام نـــــه ځکـــــه رحــــم ښــــه دے"[8]

"زمــا خــو پــرې لاس بــر ؤ انتقــام مــې اخیســتې شــو
خــو هــر ځلــې فطــرت بــه د دښــمن نــه رانیــولم"[9]

زه د بـــدل پـــه ځـــائے بخښـــني لـــه تـــرجیح ورکـــوؤم
مالــه خــدائے داســې عجیبــه غونــدې فطــرت راکــړے"[10]

یـــو ســـپېځلے مصــــلحت مـــې لاس رانیســــې
ګنـــې زړه مـــې درتـــه ډک د انتقــــام دے"[11]

بیــا فــرق ځــې رقیبــه ســتا او د هغــه ترمېنځــه
ګنــې دریــاب ګــورې پــه چــل د انتقــام پــوهیږي"[12]

خو د دې سره سره هغه د خپل ذات نه سربېره د خپل وطن او خاورې په ناموس سمجوته چرته هم نه کوي او په دې لړ کښې هغه سترګې سرې او وينه کښې جوش هم لري۔ لکه چې وائي:

"چــا چــې زمــونږ پــه خــاوره هپــې اوکــړې
ځنکـــه نـــو مـــونږ اره اره کـــړه کنـــه"[13]

دغه رنګ هغه د ښو په بدل ورګرځولو هم ښه کلکه عقيده لري او د چا يوه ذره ښه او احسان هم لکه د غر ګڼي۔ لکه چې وائي:

"دريابــه چــې يــوه ذره احســان راســره وشــي
هغه راته وزنـي لکـه د غـره را محسوسـيږي"[14]

"مـا ورتـه برنګـه برنګـولی د زړګـي ور پرېښــے دے
چـا کـه پـه زړه کښـي راتـه لـږ شـاني هـم وت کـړے دے"[15]

" مـا ورتـه ايښـي دي پـه پښـو کښـي خپـل همـه کائنـات
چا که په زړه کښـي رالـه لـږ شـاني هم وت راکړے"[16]

## توره:

د توره معنيٰ ده بهادري، نرتوب، زړه ورتيا يا مړانه۔ په نړۍ کښې پښتون هم په دې صفت پېژندے شي چې پښتون وي نو په ده کښې به بهادري او توره ارومرو وي۔ که جنګ وي يا که د سخت نه سخت کار وي پښتون به ورله غاړه ورکوي خپله توره، بهادري به پکښې ښکاره کوي او هر قسم حالاتو ته به لکه د غر ولاړ وي۔ علي خېل درياب هم د دې پښتون قام يو تورزن وګړے دے او د خپل قام تورزني ئې په خپل کلام کښې په واز کومې بيان کړي او په وياړ رانغښتي ده۔ لکه چې وائي:

مـــا غلـــيم تـــه زور د خپلوجـــذبو وښـــود
د مورچـــل نـــه تـــر کارګلـــه پســـي لاړم"[17]

"مــونږ د جبــر تــورو لــه مخونــه اړولــي دي
مونږه پـه پرهـر د پرهرونـو عـادت خلـق يـو"[18]

## وفا:

پښتون د خپل محبوب،خاندان، خپلوانو، دوستانو، خپلي قبيلي، او وطن وغېره سره ډېر په اخلاص ژوند کوي پښتون په خپله وفادارئ چرته هم سمجهوته نه کوي او نه پرې شرم محسوسوي۔ وفاداري د پښتون په ختَه کښې اخښلې شوي ده۔ د پښتونولئ ددې ارزښتناک عنصرملغلرې هم علي خېل دریاب د خپل کلام په امېل کښې په ډېر ښکلي پېرایه کښې پیئلی دي ځکه چې هغه پخپله هم د وفا داعي، حامي او په عملي توګه منونکے پښتون دے۔ لکه چې وائي:

"د وفــا د ټکــي ذکــر چــې اونــه کــړي
دا د ښــکلو مــذهبونو کښــې بــدعت دے"[19]

## ښېګړه:

ښېګړه معني ده د چا سره بې د څه لالچه ښه یا احسان کول۔ پښتون همېشه د نیکئ او ښېګړې په کارونو کښې بوخت وي او د هر چا خدمت ته هر وخت چمتو وي او په روڼ تندي ئې کوي۔ دریاب هم د هر چا سره د خېر ښېګړې قائل دے او هم دا عمل د رب نه د خپلې بخښنې او د زړه د سکون یوه ذریعه ګڼي۔ لکه چې وائي:

"شــائد چــې دغــه مــې ســبب د بخښــانې وګرځــي
زباد مې تر ننـه پـه هیچـا د احسـان نـه دے کـړے"[20]

" کــه احســاس د بــل پیــدا شــو پــه انســان کښــې
بیا بــه چـرې داسـې ورک نـه شـي پـه ځـان کښـې"[21]

"مــونږ شــدل بــډل یــو د خــدمت نــه غــاړه نــه غــړو
مــونږه د درنــو درنــو کــارونو عــادت خلــق یــو"[22]

## ننګ :

ننګ چې معني ئې ده غېرت، مړانه، آبرو۔ پښتون د ځان نه چاپېره هر کمزوري او بې وسه اوسېدونکي باندې ننګ کوي هغه که ښځه وي، مال جائیداد وي، رشتې وي، مېلمه مېزمه وي، قام قبیله وي، نوکر یا ګاونډیان وي، ژبه وي او تر دې چې که ځناور هم وي په هر څه پښتانه ننګ او غېرت کوي او د هغه د عزت حفاظت خپل ړومبے فرض ګڼي۔ خواه که هغه پېژني او که نه خو د چا ظلم او زیاتي ښکار کېدو ته ئې نه پرېږدي او په دغه لړ کښې هغه په خپل هر قسمه سود او زیان سرفه نه کوي۔ دریاب د پښتونولئ دا تانده عنصر په په خپل کلام ځاے په ځاے یادونه کړي ده او ننګ ئې د پښتون دپاره لازم و ملزوم ګرځولے دے۔

لکه په دې شعرونو کښې چې وائي:

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

"مـا سـره نـن ضـمير پـه دې خبـره جنـګ کـړے دے
مـا د بـې ننګـو سـره ټـول عمـر لـه ننـګ کـړے دے"[23]

"پښــتنو تــل د غلامــۍ د ژونــد نــه کرکــه کــړې
پښــتنو تــل پــه دغــه يــوه خبــره جنــګ کــړے دے
دريابــه مــا د اصــولي ســنګر مورچــه نيــولې
دريابــه مـا خـو پـه پخـه خبـره جنـګ کـړے دے"[24]

"دريابـــه پښـــتانه بـــه قتلـــولي شـــي تـــر کـــومې
چـې اوس د دې خـلاف د پاسـېدو خبـرې اوکـړو"[25]

د بـل پـه جنـګ کښـې مـو شـپېته زره سـرونه ايښـې
بل چـا زمـونږ نـه بغېـر دومـره تـاوان نـه دے کـړے"[26]

"مـا کـه بخښـې نـو دغـه يـو عمـل مـې هـم پـوره دے
چې پـه پښـتو بانـدې مـې هـر ځـائے کښـې غېـرت کـړے دے"[27]

## پت :

پت په يارۍ دوستۍ کښې اعتماد او باور ته وئيلې شي۔ دا د سنسکرت ژبې نه هندۍ ژبې ته راغلے دے او پښتو ژبه کښې هم په هغه معنو کښې مستعمل دے۔ په هندۍ ژبه کښې د دې توري نه نور توري هم مشتق دي لکه هغوي پلار ته پيتا، خاوند ته پتي او ښځې يعني کور وداني ته پتني وائي ځکه چې په رشتو کښې دا رشتې ډېرې باوري او با اعتماده وي۔

په پښتنو کښې دا خوي مشترک دے چې دوي که د هر چا سره ياري دوستي کوي نو په هغې کښې با اعتماده او باوري وي او په دې کښې تر اخري حده ځي۔ په پښتون وګړي خلق اعتماد ساتي او دا ئې يقين وي چې پښتون دے نو دهوکه او فريب به چرته نه کوي۔ پت د پښتون قام شناخت او د پښتونولۍ يو ډېر مهم او جوت عنصر دے۔ د پښتونولۍ د دې عنصر په حقله دعلي خېل درياب په کلام کښې ځائے په ځائے يادونه شوي ده۔ لکه چې وائي:

"هــېڅ اصــول ئــې د يــارۍ دپــاره نشــته
پــه دريــاب کښــې دا کمــې ده دا خــامي ده"[28]

"پــت د یــارۍ بــه دې ارومــرو پــالم لېــونۍ
زه بــه درځــم لېــونۍ فکــر اونــه کــړې"[29]

" زما په ژوند کښې خو هغه دے د هر څه نه اول
زما په ژوند کښې نور څه نشته د هغه نه اول"[30]

علي خېل درياب پت د پښتون قام يوه لويه اثاثه او د ميني محبت اصل معني ګڼي۔

"چـــې اثـــاثې خلقـــو د پـــت بېللـــي
ځکـــه معنـــې خپلـــې الفـــت بېللـــي"[31]

"مـونږ پــه خــدائ کــه ورتــه بــره دي کتلــي
کــه نيــولي چــا يــارۍ کښــې د مــرۍ يــو"[32]

"ښکليه ستا يادونـه ستا پـه شـان بـې پتـه نـه دي
دوي ما يواځې نه پرېږدي له مروتـه ډک دي"[33]

"لارې د ژونـــدو دي اخـــر را بـــه شـــي
کـــډه ورتـــه زړه پـــه لار کښـــې واړوه"[34]

الزامونـــو نـــه دې ځـــار شـــم پښـــتانه دي
تـــر د داره پـــورې دوي زمـــا ســـره دي"[35]

"دا چـې دې پـه خيـال کښـې نـورې چـارې دي
دا د اعتمـــاد پـــه مـــخ نوكـــارې دي"[36]

**جرګه:**

جرګه هم د پښتونولۍ په عناصرو کښې يو مهم عنصر دے چې کله هم د پښتنو ترمينځه څه مسله يا کشاله راپېښه شي نو د کلي مشران، سپين روبي را جمع شي اود راپېښې شخړې دحل دپاره لار ولټوي. ۔ پښتانه د جرګې د خلقو ډېر قدر و عزت او د جرګې د پرېکړې ډېره پابندي کوي خواه که هغه پرېکړه ئې خلاف توقع يا خلاف مزاج ولې نه وي۔ جرګه د پښتنو عدالت وي چې پکښې د بېلا بېلو مسئلو او کشالو پرېکړې ښه په غېر جانبدارۍ او انصاف سره

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

کولې شي- د جرګې مشران په مکمله توګه با اختیاره وي او د فریقېنو پرې مکمل اعتماد او باور وي-

علي خېل دریاب هم چونکي په پښتنه ټولنه کښې سترګې غړولي دي او ډېرې جرګې ئې په خپلو سترګو لیدلي دي او ناسته پاسته ئې پکښې کړي ده ځکه خو ئې په خپل کلام کښې په بېلا بېلو حوالو سره د جرګې ذکر کړے دے- لکه چې وائي:

"دریابه مرور دے رانه ښکلے که پخلا شي
جرګه پسې د ټولې پښتونخوا راټولوؤم"[37]

"کور نه کیږي د کلي په جرګو باندې رښتیا ده
جرګه شئ چې په خپلو مسئلو خبرې اوکړو"[38]

هغوي جرګه د شته وحدت د نیلامی کوله
هغوي د لر او بر د زړه خبره نه کوله"[39]

"چې پسرلي ئې په جرګه راویسته
قسم په خپله مرور ماتوؤ"[40]

## ژمنه:

د ژمنه معني ده لوظ، وعده، قول- دا هم د پښتونولی په عناصرو کښې یو په زړه پورې توکے دے- پښتانه د لوظ ډېره پابندي کوي او چې د چا سره څه خبره یا لوظ اوکړي نو هغه په هر حال کښې پوره کوي او چې څوک بې لوظي اوکړي نو هغه بیا پښتون نه ګڼلي کیږي او دغه کار ته ئې بې پښتو کار وئیلي کیږي- دریاب د پښتنو دغه سپېڅلے صفت هم د خپلې شاعرۍ زینت ګرځولے دے او د ژمني او لوظ په پابندۍ ئې ډېر زور راوړے دے-هغه د پښتنو لوظ او ژبه د دوي ټوله اثاثه او پېژندګلو ګڼي- لکه چې وائي:

"د پښتنو یوه خبره وي چې لوظ اوکړي
په پښتنو کښې د سبا سبا خبره نشته"[41]

"ستا په سر کړے خپل قسم به خامخا پوره کوم
که مرګي نه کړم بې اعتباره د سحر نه مخکښې"[42]

"د يــو نـــازک بـــدن ســـودا مـــې تقريبًـــا کـــړي ده
چـې يـو نازکـه شـان وعـده راتـه رامخـې تـه شـوه"[43]

"عمرونـــه اوشـــو تـــا کـــړې زمـــا ســـره وعـــده وه
تا وې چې اوس خو ځمه چرتـه شـپه بـه درلـه راوړم"[44]

" قتـــل دې اوکـــړو د وعـــدې يـــره خـــو
نـــه بـــه دې وې چـــې نـــه راتلـــې يـــره خـــو"[45]

## پېغور:

پېغور دپښتو پښتونولۍ برخه ده ـ دا په دوه ډوله دے چې يو بد پېغور او بل ښه پېغور دے۔ بد پېغور هغه چې د چا سره بل چا څه ظلم، زياتي کړے وي يا ئې ورله څوک خپل وژلے وي او بيا په هغې کښې وخت تېر شوے وي، خبره سړه شوي وي يا ئې روغه جوړه شوي وي او د بيا د دې متاثره سړي د بل چا څه انخښته راشي او ورته دا اوئيلي شي " چې ورشه اول هغه خپل بدل واخله بيا ما ته خبرې کوه" نو دا پېغور پښتون د مرګ نه هم زيات ګڼي او دا رنګ هغه بې سوچه دغه پېغور ختموي او زړه پخوانۍ جګړه تازه کوي او د مرګ ژوبلو پورې ځي۔

دا رنګ د پېغور بل شکل ښه پېغور هم دے چې کله څوک د استطاعت لرلو باوجود څه ښه يا نېک کار نه کوي او د دغې پېغور ورته ورکړې شي او د هغې له کبله هغه دغه ښه يا نېک کار پېل کړي۔

علي خېل درياب د پښتنو د دې عمل نه، د دې د نتيجو نه او د پښتنو په ژوند کښې د دې د اهميت نه هم ښه باخبره دے ځکه خو د خپل شعر په ژبه راوستې دے او وائي:

"پښـــتون پـــه ډزو کلـــے نـــه پرېـــږدي خـــو
پښـــتون تـــرې لاړ شـــي د پېغـــوره يـــاره"[46]

## بدرګه:

بدرګه هم د پښتونولۍ يو سپېڅلے توکے دے۔ چې د دوؤ لفظونو "بدر" او "ګه" نه جوړ ټکے دے۔ د بدر معني ده بدلول او ګه يا ګاه معني ده ځاے۔ دغه شان د بدرګه ټکي پوره لغوي معني' د ځاے بدلول ده ـ

په اصطلاح کښې بدرګه د محافظينو هغه ډلې ته وئيلې شي چې هغه د يو چا سره د هغوي د حفاظت په غرض ځي او د خطرناکې علاقې يا خپلې علاقې د حدود نه ئې په حفاظت

سره اړوي- چې څوک ورته نقصان ونه رسوي .پښتانه چې کله د چا سره بدرګه کوي نو دومره په کلکه ئې کوي چې که متعلقه کس ته څه زيان ورسي نو د هغې ازاله بدرګې واله کوي-

بدرګه ذاتي هم کېدې شي او اجتماعي هم- دا په خطرې منحصره وي- علي خېل درياب د پښتنو د بدرګې ددغې عمل قائل او منونکے دے او د خپل قام په دې غېرتي او امن خوښې رسم مئين دے او تر دې چې هغه د مينې محبت په مېدان کښې هم د محبوب بدرګه کېدل د مينې د اظهار علامت ګڼي- لکه چې وائي:

"څـومره خـاموش اظهـار د مينــې کــوي
هغــه چــې مــا ســره تــر وره راشــي"[47]

د علي خېل درياب په کلام کښې د پښتونولۍ د عناصرو او اقدارو د د سنجولو نه دا خبره ډاګې ته کېږي چې هغه د جديد دور د اعلي تعليم ترلاسه کولو سره سره د پښتو او پښتونولۍ کلک پلوي دے او په دغه حواله هغه په خپل قام او په خپلو پښتني اقدارو وياړ کوي او هم دغه هغه خپله ښکلا او سينګار ګڼي- لکه چې وائي:

"زه چـې ښـکلے يـم پـه دې بانـدې يـم ښـکلے
د اقـــدارو د ســـينګار نـــه څنګـــه اوځـــم"[48]

د پښتو او پښتونولۍ سره د درياب د بې حده مينې د دې نه پته لګي چې هغه په خپل کلام کښې پښتونولي له لاسه نه ورکوي او شعوري توګه د دې سپېڅلي آئين خپرونه، دفاع او ستائينه کوي- کوم چې د پښتو او پښتونولۍ دپاره ناګزير او د ستائينې وړ دي-

خپل دا بحث د هغه په دې شعر راټولوؤمه چې:

"دريابه لري نـه ده وخـت بـه فېصـله اوکـړي چـې
مـا د پښـتو پـه لمـن څـومره تـک وهلـي سـتوري"[49]

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

حوالي:

[1] همېش خلیل، پښتانه لیکوال(دوېم ټوک)، وړومبے چاپ، خورونکي: یونیورسټي پبلشرز آفغان مارکیټ پېښور، کال: ۲۰۱۱ء، مخونه: د ۳۹۰ نه تر ۳۹۱ پورې
[2] همېش خلیل، پښتانه لیکوال(دوېم ټوک)، وړومبے چاپ، خورونکي: یونیورسټي پبلشرز آفغان مارکیټ پېښور، کال: ۲۰۱۱ء، مخ : ۳۹۱
[3] علي خېل دریاب، ډاکټر، بهیر د جمال، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه اماندره ملاکنډ ایجنسي، د چاپ کال نه لري، مخ : ۱٤٥
[4] هم دغه اثر، مخ : ۹۲
[5] علي خېل دریاب، ډاکټر، سندریز الهام(دوېم چاپ)، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه اماندره ملاکنډ، کال: ۲۰۲۰ء، مخ : ۱٥۸
[6] علي خېل دریاب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) امانده، کال:۲۰۱۹ء، مخ : ٦۹
[7] هم دغه اثر، مخ : ٤٦
[8] هم دغه اثر، مخ : ۱۸۹
[9] هم دغه اثر، مخ : ۷۰
[10] علي خېل دریاب، ډاکټر، سندریز الهام(دوېم چاپ)، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه امانده ملاکنډ، کال: ۲۰۲۰ء، مخ : ٦۳
[11] علي خېل دریاب، ډاکټر، بهیر د جمال، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه امانده ملاکنډ ایجنسي، د چاپ کال نه لري، مخ : ۱۸۳
[12] علي خېل دریاب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) امانده، کال:۲۰۱۹ء، مخ : ۱۸۷
[13] علي خېل دریاب، ډاکټر، بهیر د جمال، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه امانده ملاکنډ ایجنسي، د چاپ کال نه لري، مخ : ۷۸
[14] علي خېل دریاب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) امانده، کال:۲۰۱۹ء، مخ : ۱٥٥
[15] علي خېل دریاب، ډاکټر، بهیر د جمال، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه امانده ملاکنډ ایجنسي، د چاپ کال نه لري، مخ : ۱۸٤
[16] علي خېل دریاب، ډاکټر، سندریز الهام(دوېم چاپ)، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه امانده ملاکنډ، کال: ۲۰۲۰ء، مخ : ٦۲
[17] علي خېل دریاب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) امانده، کال:۲۰۱۹ء، مخ : ٦۹
[18] علي خېل دریاب، ډاکټر، بهیر د جمال، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه امانده ملاکنډ ایجنسي، د چاپ کال نه لري، مخ : ۸۷
[19] هم دغه اثر، مخ : ۲۰٦
[20] علي خېل دریاب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) امانده، کال:۲۰۱۹ء، مخ : ۱۲۹
[21] علي خېل دریاب، ډاکټر، بهیر د جمال، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه امانده ملاکنډ ایجنسي، د چاپ کال نه لري، مخ : ۷۰
[22] هم دغه اثر، مخ : ۸۷
[23] علي خېل دریاب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) امانده، کال:۲۰۱۹ء، مخ : ٦۷
[24] هم دغه اثر، مخ : ۷٦

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

[25] هم دغه اثر، مخ : ۱۱۸
[26] هم دغه اثر، مخ : ۱۲۸
[27] علي خېل درياب، ډاکټر، بهير د جمال، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه اماندره ملاکنډ ايجنسي، د چاپ کال نه لري، مخ : ۱۸٤
[28] علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) اماندره، کال:۲۰۱۹ء، مخ : ۳٤
[29] هم دغه اثر، مخ : ۸۳
[30] هم دغه اثر، مخ : ۷۹
[31] علي خېل درياب، ډاکټر، سندريز الهام(دوېم چاپ)، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه اماندره ملاکنډ، کال: ۲۰۲۰ء، مخ : ۲۰٦
[32] علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) اماندره، کال:۲۰۱۹ء، مخ : ۷۲
[33] علي خېل درياب، ډاکټر، سندريز الهام(دوېم چاپ)، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه اماندره ملاکنډ، کال: ۲۰۲۰ء، مخ : ۷۰
[34] علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) اماندره، کال:۲۰۱۹ء، مخ : ۳۱
[35] علي خېل درياب، ډاکټر، بهير د جمال، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه اماندره ملاکنډ ايجنسي، د چاپ کال نه لري، مخ : ۷٤
[36] علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) اماندره، کال:۲۰۱۹ء، مخ : ۱٤۷
[37] علي خېل درياب، ډاکټر، بهير د جمال، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه اماندره ملاکنډ ايجنسي، د چاپ کال نه لري، مخ : ۱۹٤
[38] علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) اماندره، کال:۲۰۱۹ء، مخ : ۱۷
[39] هم دغه اثر، مخ : ۱۰۱
[40] علي خېل درياب، ډاکټر، بهير د جمال، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه اماندره ملاکنډ ايجنسي، د چاپ کال نه لري، مخ : ۲۹
[41] علي خېل درياب، ډاکټر، سندريز الهام(دوېم چاپ)، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه اماندره ملاکنډ، کال: ۲۰۲۰ء، مخ : ۱۰۲
[42] علي خېل درياب، ډاکټر، بهير د جمال، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه اماندره ملاکنډ ايجنسي، د چاپ کال نه لري، مخ : ۲۳۰
[43] هم دغه اثر، مخ : ۵۹
[44] علي خېل درياب، ډاکټر، سندريز الهام(دوېم چاپ)، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه اماندره ملاکنډ، کال: ۲۰۲۰ء، مخ : ٤۸
[45] علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) اماندره، کال:۲۰۱۹ء، مخ : ۱۵٤
[46] علي خېل درياب، ډاکټر، سندريز الهام(دوېم چاپ)، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه اماندره ملاکنډ، کال: ۲۰۲۰ء، مخ : ۱۷۷
[47] علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) اماندره، کال:۲۰۱۹ء، مخ : ۱۳۹
[48] هم دغه اثر، مخ : ۲٦
[49] علي خېل درياب، ډاکټر، بهير د جمال، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه اماندره ملاکنډ ايجنسي، د چاپ کال نه لري، مخ : ۱۹۲